**بسم الله الرحمن الرحیم**

**پوښتنې ته ځواب**

**د لور له خوښې پرته د پلار له لوري د هغې د ودولو حکم**

**نازک الملایکه ته**

**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

زه یوه پوښتنه لرم، په دې هیله چې ژر راته ځواب شي.

ایا د داسې واده کېدل روا دي، چې نجلۍ پکې د مېړه په اړه خپل رضایت نه وي ښودلی؟

د نکاح د لاسلیک لپاره اړ شوې نه وم، بلکې ماته وویل شول چې کوژدن یا زوم د کور په دروازه کې دی او ما هم ور سره ومنله.

وروسته ما احساس وکړ چې زه تر فشار لاندې راغلې وم او اړ شوې وم، چې له کومې خبرې پرته دی قبول کړم. د دغې ستونزې حللاره څه ده، په داسې حال کې چې واده شوی وي، خو مقاربت یا دخول لا تر اوسه نه وي ترسره شوی؟

**ځواب:**

و علیکم السلام و رحمت الله و برکاته!

دغه موضوع موږ د اسلام د ټولنیز نظام کتاب په واده څېرکي کې یاده کړې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاندې حدیث مو د دغې موضوع په تړاو راوړی دی:

عبدالله ابن بریدة رضی الله عنه له خپل پلار څخه روایت کوي:

**«جاءتْ فتاةٌ إلى رسولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فقالتْ: إن أَبي زَوَّجَني ابنَ أَخيهِ لِيَرْفَعَ بي خَسيسَتَهُ. قال فَجَعَلَ الأمرَ إليها فقالتْ قد أَجَزْتُ ما صَنَعَ أَبي، ولكنْ أردْتُ أن أُعْلِمَ النساءَ أنْ ليسَ إلى الآباءِ مِنَ الأمْرِ شيءٌ»**

(ابن ماجه روایت کړی دی)

***ژباړه:*** *یوه ځوانه ښځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ویې ویل: «پلار مې خپل خوربي ته په نکاح کړم، ترڅو له خپل ناوړه حالت څخه ځان وباسي.» نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دې ته د واده د ردولو اجازه ورکړه او وروسته دې وویل: «زه مې د پلار امر ته غاړه ایږدم، خو ما غوښتل نورې ښځې پوه کړم، چې پلرونه یې هېڅ حق نه لري چې خپلې لوڼې د هغوی له خوښې پرته واده کړي.» پای*

ابو العباس شهاب الدین البوصیري الکناني الشافعي (وفات: ۸۴۰ هـ) په خپل کتاب «*مصباح الزجاجة في زوايد ابن ماجه*» کې لیکي:

عبدالله ابن بریدة رضی الله عنه له خپل پلار څخه روایتوي، چې یوه ځوانه ښځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ویې ویل: «پلار مې خپل خوربي ته په نکاح کړم، ترڅو له خپل ناوړه حالت څخه ځان وباسي.» دی وایي:

«فَجعل الْأَمر إِلَيْهَا فَقَالَت قد أجزت مَا صنع أبي وَلَكِن أردْت أَن تعلم النِّسَاء أَنه لَيْسَ للآباء من الْأَمر شَيْء»

***ژباړه:*** *رسول الله صلى الله عليه وسلم دې ته د واده د ردولو اجازه ورکړه، وروسته دې وویل: «زه مې د پلار امر ته غاړه ایږدم، خو ما غوښتل نورې ښځې پوه کړم، چې پلرونه یې هېڅ حق نه لري چې خپلې لوڼې د هغوی له خوښې پرته واده کړي.»*

دی وایي دغه روایت صحیح دی او راویان یې باوري کسان دي.

پر همدې اساس پلار باید د خپلې لور رضایت لاسته راوړي او پر شرعي نکاح ترونکي دا لازمه ده، چې د نجلۍ رضایت یقیني کړي، ترڅو ایجاب او قبول په رضایت او خوښۍ سره وشي.

مور په تولیزنظام کې د واده په اړه په پورته یاد شوي څپرکي کې په ښه ډول واضح کړې چې وایي:

«کله چې له یوې ښځې څخه د واده غوښتنه وشي، هغه یې د منلو او ردولو پوره حق لري. د ولي او نورو کسانو په ګډون هېڅوک دا حق نه لري، چې د هغې له خوښې پرته دا واده کړي او یا د دې د واده خنډ وګرځي. له ابن عباس څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل:

**«الثَّيِّبُ أحقُّ بِنَفْسِها مِنْ وَلِيِّها، والبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ في نَفْسِها وإِذْنُها صُماتُها»**

***ژباړه:*** *مېړوښه ښځه تر خپل ولي زیات واک لري او له باکرې (پېغلې) څخه بیا اجازه غوښتل کېږي. د دې اجازه د هغې چوپ پاتې کېدل دي.*

همدا راز ابو هریره رضی الله عنه روایت کړی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل:

**«لا تُنْكَحُ الأَيِّمُ حتى تُسْتَأْمَرَ، ولا البِكْرُ حتى تُسْتَأْذَنَ. قالوا: يا رسولَ اللهِ، وكيفَ إِذْنُها؟ قال: أن تَسْكُتَ»** (متفق علیه)

***ژباړه:*** *یوه مېړوښه ښځه باید د هغې له مشورې پرته واده نه شي او یوه باکره (پېغله) باید د هغې له اجازې پرته واده نه شي. خلکو پوښتنه وکړه: «اې د الله رسوله صلى الله عليه وسلم! د هغې په اجازه به څنګه پوه شو؟ ده صلى الله عليه وسلم ځواب ورکړ: «د دې چوپ پاتې کېدل د هغې اجازه ښيي.»*

له ابن عباس نه روایت دی چې:

**«أن جاريةً بكْراً أَتَتْ رسولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَذَكَرَتْ أَن أَباها زَوَّجَها وهِيَ كارِهَةٌ، فَخَيَّرَها النبيُّ صلى الله عليه وسلم»**

(رواه ابو داود)

***ژباړه:*** *یوه ځوانه پېغله رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغله او ویې ویل، چې پلار یې د دې له خوښې پرته ورکړې ده، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم دې ته د واده د ردولو اجازه ورکړه.*

د خنسا بنت خذام الانصاریه رضی الله عنها څخه روایت دی چې:

**«أن أباها زَوَّجها وهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذلك فأَتَتْ رسولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَرَدَّ نِكاحَها»**

(رواه بخاري)

***ژباړه:*** *پلار يې دا پر داسې مهال واده کړې، چې دا يوه مېړوښه ښځه وه. د دې واده نه وو خوښ، نو دا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغله او ده صلى الله عليه وسلم هم د دې واده ور باطل کړ.*

له دغو احاديثو څخه په واضح ډول څرګندېږي، چې که يوه ښځه د واده لپاره خپل رضايت ونه ښيي، نو واده نه شي کېدلی. که دا واده رد کړي او بيا په زور سره واده شي، نو عقد يې فسخه کېږي، پرته له دې چې دا بېرته را وګرځي او رضايت وښيي.

تاسو د دغې موضوع په اړه په ښکاره نص وليد، چې موږ پاس يادونه وکړه او په تکرار سره مو وويل: «دا احاديث په واضح ډول ښيي، چې که يوه ښځه د واده لپاره خپل رضايت نه ښيي، نو واده صحيح نه دی. که ښځه واده رد کړي او يا دا په زور سره واده شي، نو عقد يې فسخه کېږي، پرته له دې چې دا بېرته را وګرځي او رضايت وښيي.»

زه هيله لرم چې دا به کافي وي او الله سبحانه وتعالی غوره عالم او حکيم ذات دی.

**ستاسې ورور،**

**عطاء بن خليل ابو الرشته**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د جمادی الثاني ۱۴مه**

**۲۰۲۰م کال، د فبروري ۸مه**